مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

شاه‌ولی ارین

۲۰۲۶/۱۰/۱۷

# د مخدره توکو کر، تولید او استعمال

## (لومړۍ برخه)



دا یو عیني واقعیت دی چې زموږ په هېواد افغانستان کې د مخدره توکو کر، تولید او استعمال د هېواد پر اقتصاد، روغتیا او ټولنه خورا ژور او منفي اغېزې لرلې شي.

درنو لوستونکو دغه معلومات چې په پنځو برخو کې د خپریدو لپاره جوړ شوي دي، د مطالبو د غنی کولو او لا پوره معلوماتو په خاطر له ګوګل او ځینو نورو منابعو نه استفاده شوي ده.

غواړم مخکې تر دې چې په هېواد کې د دغې خطرناکه او انسان وژونکې پدیدې پر مثبتو او منفي اړخونو بحث وکړم، لازمي یې بولم چې د مخدره توکو پر ډولونو لږه رڼا واچوم.

مخدره توکي بېلابېل ډولونه لري چې مشهور یې په لاندې ډول دي:

**۱- طبعي مخدره توکي:**

هغه توکي دي چې له بوټو څخه تر لاسه کېږي لکه تریاک، چرس، بنګ، او کوکنار.

**۲- مصنوعي مخدره توکي:**

هغه مواد دي چې په لابراتوارونو کې جوړېږي لکه هیروئین، شیشه، کوکاین او میتامفیتامین.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولۍ

**۳- درمليز مخدره توکي:**

دغه درمل که د ډاکترانو له مشورې پرته او په زياته اندازه وکارول شي اعتياد رامنځته کوي، لکه مورفين، ټرامادول او خوب راوستونکي ګولۍ.

زموږ په ګران هېواد افغانستان کي د مخدره توکو کرکيله ډېر پخوانی تاريخ لري د کوکنارو او چرسو د کښت له امله افغانستان تر ډېره وخته په نړۍ کې د کوکنارو او ترياکو ترټولو لوی توليدوونکی هېواد و.

له سرې جګړې وروسته، په افغانستان کي د کورنۍ جګړې پرمهال هم، افغانستان د نشه‌يي توکو يو له ډېرو توليدوونکو هېوادونو څخه شمېرل کېده. په (۱۹۹۷) کال کي په افغانستان کي د مخدره توکو پيداوار(۲۸۰۴) ټنه وو، چې بيا په (۱۹۹۹) کال کي (۴۵۶۵) ټنو ته ورسېدل؛ ليدل کېږی چې د افغان دښمنو تنظيمي ډلو (په نوم مجاهدينو) د واکمنی پر مهال د شوروي پر وړاندي د افغانانو د مقاومت او وروسته د کورنيو جګړو په لومړنيو کلونو( ۱۹۷۹–۱۹۹۲) د مخدره توکو په ځانګړي توګه کوکنارو او ترياکو کښت او قاچاق په ځينو سيمو کي د جګړې د تمويل او اقتصادي اړتياوو تر نوم لاندې د ځينو سيميزو قوماندانانو او په نوم جهادي کړيو له خوا د لګښتونو د پوره کولو لپاره د کوکنارو له کښت او خپلو شخصي ګټو په خاطر د ترياکو له قاچاق څخه د عايد په توګه کار واخيستل شو، چې د يوه قوي او واحد مرکزي حکومت نه‌شتون او د هېواد په بېلابېلو سيمو کي د سيميزو ځواکونو واکمني د دې لامل شو چې د مخدره توکو توليد او قاچاق ته پراخه زمينه برابره شي. له بله پلوه په سيمه کي د کړکېچونو او ناامنيو له امله د مخدره توکو نړيوالو قاچاقبرانو او شبکو هم له دې تشي څخه ناوړه ګټه پورته کړه او دغو دواړو مافيايي برخو د مخدره توکو د کر، توليد او قاچاق کچه نوره هم مخ په لوړېدو کړه.

په (۲۰۰۱) کال کي د طالبانو د مشر ملا محمدعمر د فرمان له امله، د نشه‌يي توکو پيداوار په خورا لوړ توپير او بې ساري توګه له( ۳۲۷۶ )ټنوڅخه( ۱۸۵ )ټنو ته راکم شول او نور هم تر جدي کنترول لاندې ونيول شول.

له( ۲۰۰۱ )کال څخه تر( ۲۰۰۷ ) کال د امريکايي استعمار په موجوديت کي د امريکايي قاچاقبرانومافيايي کړيو او د هغوي د محلي اجنټانو چې د سيمو په زورواکو بدل شوي وو، د مخدره توکو پيداوار يو ځل بيا کال په کال مخ پر زياتېدو شول او له( ۳۴۰۰ )ټنو څخه( ۸۲۰۰ )ټنو ته ورسېدل. د مخدره توکو په پيداوارو کي د زياتوالي عمده لامل دا و، چې د هېواد په ډېرى برخو کي يې کښت په بې‌مخينې ډول زيات شول. د مخدره توکو کښت په( ۲۰۰۲ ) کال کي د ټول هېواد په کچه ( ۷۴ ) زره هکتاره و، خو په( ۲۰۰۷ )کال کي( ۱۹۳ )زره هکتارو ته زيات شو.

له( ۲۰۰۷ )کال څخه بيا تر( ۲۰۱۰ )کال پورې د مخدره توکو پيداوار له( ۸۲۰۰ )ټنو څخه( ۳۶۰ )ټنو ته راکم شول. خو په ۲۰۱۱، ۲۰۱۳ او ۲۰۱۴ کال کي دا کچه يو ځل بيا لوړه شوه.

ليدل کېږي چې د طالبانو د واکمن کيدو سره سم بيا د مخدره توکو پر کر جدي بنديز ولګيد او په دغه برخه کي هر اړخيزې هلي ځلي تر سره کېږي. سره له دې چې سرپرست حکومت د مخدره توکو پر کر د بنديز خبر ورکړی, خو نړيوال راپورونه ښيي چې لا هم په ځينو برخو کې د چرسو او نورو نشه‌يي توکو کر او کارونه د حکومت له لورې د بديل د مرستو د نشته والي له امله شتون لري.

زموږ په هېواد کي بې وزلي، د عايداتو نه شتون او په کورنيو چارو کي اقتصادي ستونزې بزګران دې ته اړ باسي چې د نورو کښتونو پر ځای د مخدره توکو کر ته مخه کړي، يو ځل بيا د يادولو وړ ګڼم که چېرې بزګرانو ته ښه بديل او نورې مرستې په لاس ورکړ شي او د تبليغاتي کمپاينونو او ورکشاپونو له لارې د مخدره توکو پر زيانونو پوهاوی ورکړ شي دا هم د دغې شومې پديدې د مخنيوی غوره لار ده.

نوربيا


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ